AjSO
Afghanistan Journalists
Support Organization

د افغانستان له خبریالانو د ملاتړ سازمان

په سیمه کې د هغو خبریالانو د وضعیت په اړه د ۲۰۲۳ کلنی راپور

چې په پاکستان او ایران کې کډوال دي

2023 کال

افغان خبریالان په برزخ کې

سریزه

دا گزارش په ځانګړې توګه د هغو افغان خبریالانو پر ناوړینځپلي وضعیت، ستونزو او غوښتنو رڼا اچوي، چې په افغانستان کې د جمهوریت تر سقوط روسته د سیمې یو شمېر هېوادونو په تېره بیا پاکستان او ایران ته کډوال شوي دي او اوس د یوې ناڅرګندې راتلونکې په تمه هره شېبه له دغو هېوادونو د شړل کېدو، سپکاوي، اقتصادي ستونزو او دګڼو رواني کړاوونو له ګوابښ سره مخامخ دي.

مخینه

د ۲۰۲۱ کال د اګست په پینځلسمه افغانستان سقوط شو. دا په جنګځپلي هېواد کې یوازې د یوه حکومت سیاسي سقوط نه و، بلکې د یوې مدني – بشري ټولنې هراړخیزه ماتېدنه او راپرځېدنه وه.

لومړنۍ میاشتې او اونۍ په اضطراب، ویرې او ابهام پیل شوې، لسګونه پوښتنې له هرچا سره وې: څه پېښ شول؟ ولې پېښ شول؟ ایا نوي راغلي واکمن بدل شوي؟ ایا دوی به له مدني ټولنې، رسنیو، ښځو او خبریالانو سره څه کوي؟

وار له مخه د مبهمو کړیو او سرچینو له خوا داسې تبلیغات شوي وو، چې ګواکې طالبان بدل شوي دي، پخپله د طالبانو ویاند هم کابل ته له راننوتلو سره سم، په خپل لومړني مطبوعاتي کنفرانس کې ډاډ ورکړ، چې رسنۍ به خپل کار ته دوام ورکړي، یوازې دې اسلامي شریعت په پام کې ونیسي. وروسته خرګنده شوه، چې طالبان زړه نازړه وو، له هېواده وتل هم ورځ تر بلې سختېده. له ډېر کم ځنډ وروسته خرګنده شوه، چې طالبان څومره بدل شوي او خپلو تېرو بیانونو ته څومره ژمن دي. د بیان ازادي، د رسنیو په خپلواکي، د ښځو کار و فعالیتونه محدود شول.. ډېر ژر د سانسور لومړنۍ څپې راپورته شوې، د خبریالانو ګوابښل پیل شو، ځینې خبریالان ونیول شول او څه هم د ګزارشونو د جوړولو پرمهال له تاوتریخوالي سره مخ شول. د رسنیو، خبریالانو او بیان په اړه حقوقي تشه رامنځته شوه، هیڅوک نه پوهېدل چې د دوی د کار پایلې څه دي؟ او له دوی سره به د کومو قوانینو پربنسټ چلند کیږي؟

ډېر ژر د رسنیو اقتصادي ملاتړ کمزورې او بیا له منځه ولاړ، نور نو رسنیو نه له نړیوالو بنسټونو مرسته ترلاسه کولای شوه او نه یې هم خپلې عایداتي سرچینې هغسې وې، چې ځان وچلوي. رسنۍ ورو ورو تړل کېدې یا راپرځېدلې. ویرې، اختناق، ګوابښ، استبداد، بېقانوني، وزګاري، اقتصادي ستونزې او یوه تیاره و ګونګه راتلونکي هغه څه وو، چې د رسنوالو د کډوالۍ، تبعید او له هېواده وتلو څپې یې چټکې کړې. ځینې رسنوال لویدیزو هېوادونو ته ووتل، ځینې یې د تخلیې په برنامو کې تر منځنیو (درېیمو هېوادونو) ورسېدل، خو یو زیات شمېر یې د بېلابېلو لاملونو پربنسټ مجبور شول، ایله تر پاکستان او ایران پورې ځانونه ورسوي.

د ناورين پيل

د افغانستان د کورنۍ جګړې له پيل څخه نن سبا نږدې نيمه پېړۍ اوږې، په دې ټوله موده کې د افغانستان په جګړه کې د ګاونډيو هېوادونو ښکېلتيا د افغانستان د ملي کړکېچ سرټکی و. په تېره نيمه پېړۍ کې څو ځوځلې، چې بحران زيات شوی دی، پاکستان او ايران ته د افغان کډوالو بهير ورمات شوی دی او دغو کورښو د کډوالو له ورتللو سياسي او اقتصادي ګټې زېښلي دي. خو دا ځل هرڅه بدل شوي برېښېدل، دواړو هېوادونو خپلې دروازې تړلې وې، افغانان يوازې په پاسپورت او ويزه ورتللای شول. ويزې وړيا نه وې. تر سقوط روسته هر افغان ته د ايران ويزه(رسماً په ۸۰ ډالره، خو له اداري پروسيجر سره تر دوه يا درې سوه ډالرو) او د پاکستان ويزه (له څلور- پينځه سوه نيولې حتی تر زرو ډالرو پورې) تمامېده.

مجبورو افغانانو دا پيسې راپيدا کولې او د دې لپاره، چې ژوندي پاتې شي، ځانونه يې ايران و پاکستان ته رسول. په دوی کې ګڼ شمېر خبريالان او د رسنيو کارکوونکي ان د افغانستان و نړۍ په کچ ځينې مشهورې مطبوعاتي څېرې هم شاملې وې.

له ټولو بنديزونو او سختيو سره سره دواړو هېوادونو ادعا وکړه چې لکونه افغانان وراوښتي دي، ستونزه تر ورتللو پورې محدوده نه پاتېده، دواړو هېوادونو پر افغانانو لنډمهالې ويزې پلورلې او همدا چې د ويزو وخت به پوره شو، کډوال به د بېرته راشړلو له ګواښ سره مخ شول.

پاکستان او ايران ته د ورغليو کډوالو کټګورۍ

- سياسي پناه غوښتونکي، دا هغه ډله افغانان وو، چې فکر يې کاوه ژوند يې په افغانستان کې په خطر کې دی. په دوی کې پخواني پوځيان، مامورين، مدني فعالان، فعالې ښځې، خبريالان او د طالبانو نور مخالفان شامل وو.
- لويديزو هېوادونو ته د وررسېدو په لټه هغه افغانان، چې غوښتل يې په قاچاقي لارو ولاړ شي
- لويديزو هېوادونو ته د وررسېدو په لټه هغه افغانان، چې قانوني اسناد يې لرل او د دغو دوو هېوادونو په پلازمېنو کې يې د سفارتونو له لارې د وتلو چارې تعقيبولې
- په ګټه وټه پسې وتلي افغانان، دا هغه شمېر خلک وو، چې تر سقوط روسته يې په افغانستان کې کار وبار دربدلی و او يوازې له اقتصادي پلوه د کار موندنې په لټه دغو ګاونډيو هېوادونو ته ورتلل.
- په زدکړو پسې کډوال شوي افغانان، دا هغه شمېر خلک و، چې په کورنۍ کې يې نجونې له زدکړو بېبرخې شوې وې، لويه برخه افغانان د خپلو زامنو د زدکړو په اړه هم اندېښنه لري، ځکه د دوی په فکر طالبان عصرې ښوونځي په مدرسو بدلوي او د پوهنتونونو درسي کيفيت ورځ تر بلې ځکه رالويږي، چې لويه برخه استادان يې وتلي دي، له دې امله دوی فکر کاوه، چې په يوه ګاونډي هېواد کې به يې لږ تر لږه ماشومان عصري زدکړې وکړلای شي.

افغان خبریالان او رسنوال په دې ټولو کټګوریو کې شامل وو، چې له بده مرغه د خپلو هیلو او غوښتنو پر خلاف له بدو پایښو سره مخامخ شول.

ګاونډیو هېوادونو د ۲۰۲۳ کال له پیل څخه د افغان کډوالو په ځوروولو، شړلو، لوټلو او ربړولو پیل وکړ. له ایران څخه د ډله ډله افغانانو راایستل هره ورځ روان وو.

پاکستان د افغانانو جبري اخراج د ۲۰۲۳ کال په نومبر میاشت کې په ډلهییزه توګه راپیل کړ، دا د دواړو هېوادونو په تاریخ کې د افغانانو د اخراج تر ټولو لوی او له سپکاوي او کړاو ډک کمپاین و، چې تر نن پورې روان دی.

په یادو کډوالو کې د هر پوړ خلک شامل وو، خو ګڼ شمېر یې هغه کسان و، چې له سیاسي یا مسلکي پلوه یې خپل ژوند له ګواښ سره مخامخ لیده. په دوی کې پخواني پوځي – امنیتي افسران، دولتي لوړپوړي مامورین، هنرمندان، سندرغاړي، ښځینه فعالانې، د بشري حقونو فعالان، د مدني ټولنو کارکوونکي او فعالان، د پوهنتونونو استادان، لیکوال، فرهنګیان او خبریالان شامل وو.

زمونږ دغه راپور تر دې روسته له پورته پوړونو څخه د خبریالانو پر وضعیت تم کیږي.

خبریالان د څو لاملونو له مخې کډوالۍ ته اړه شول. تر هرڅه وړاندې دوی پېژندل شوي شخصیتونه وو او په لومړي نظر، ان عادي طالبانو هم پېژندلای شول او ترڅو یې لوړپوړي مسئولین خبرېدل، ښایي له ګواښ یا مرګ سره مخ شوي وای.

بله خبره دا وه، چې ګڼو رسنیو د شل کلن فعالیت پرمهال لیکلي یا تیلیفوني ګواښونه ترلاسه کړي وو، چې دغې مسئلې رسنوال له طالبانو څخه ویرول. د طالبانو د عفوې پر سیاست هیڅا اعتبار نه درلود.

ګڼو هغو خبریالانو او د رسنیو کارکوونکیو خپلې دندې له لاسه ورکړې وې، چې د طالبانو تر واک لاندې محدودیتونو او اقتصادي کمزورتیا یې فعالیت درولی و.

ګڼ خبریالان د خپلو کورنیو له برخلیک څخه اندېښنه لرله، دوی ښار میشتي وګړي وو او د خپلوماشومانو په تېره بیا لوڼو ښوونې و روزنې ته په اندېښنه کې ول، غوښتل یې لږ تر لږه دومره امکانات ولري، چې ماشومان یې زدکړو ته دوام ورکړي.

د تخلیې پرمهال یوه برخه خبریالان ووتل، یوشمېر نور کسان د خبریالانو په نامه او یا د رسنیو له مهمو مدیرانو سره د پېژندګلوی له مخې له هېواده ووتل، خو یو ګڼ شمېر خبریالان چې په هر دلیل یې د تخلیې پرمهال ونه کړلای شول لویدیزو هېوادونو ته ځان ورسوي، یا خو د طالبانو تر ګواښ لاندې په افغانستان کې پاتې شول او یا یې هم په ډېر زحمت ایله ځانونه تر ګاونډیو هېوادونو په تېره بیا پاکستان و ایران پورې ورسول.

د افغانستان د اوږدمهالې جګړې او کړکېچ یوه ټولنیزه انتباه دا وه، چې د سختیو پرمهال به خلک دغو دوو هېوادونو ته تلل، خو دا ځل وضعیت بدل و. د دې دواړو هېوادونو چلند، چې له پخوا نه هم انساني نه و، اوس نو نوي افغان کډوال پاکستان او ایران ته له رسېدو سره له خورا تور او تاوتریخجن مخالفت سره مخامخېدل.

په ایران و پاکستان کې هغه بنسټونه، چې د کډوالو شړل و ربړول ورپه غاړه دي، له دې کبله هم د خبریالانو په وړاندې حساس دي، چې فکر کوي دوی به د ټولو کډوالو غږ پورته کړي او هغه ناانساني چلند به مستند کړي، چې له افغان کډوالو سره کیږي.

په دې توګه پاکستان، ایران او د سیمې نور هېوادونه د افغان خبریالانو لپاره د ویرې و هیلې ترمنځ په داسې یوه ځوروونکي برزخ بدل شول، چې یوه لوري ته یې د مبهمې راتلونکي او انتظار سوزوونکی دوزخ پروت و او بل خواته یې خپل جنتي وطن، چې دوی ببرته ورستنېدلای نه شول.

له افغان خبریالانو د ملاتړ سازمان د تأسیس له پیل څخه په دغو دوو هېوادونو کې له خپلو همکارانو سره په تماس کې و. مور د دوی وضعیت ته د پام راړولو هڅه لومړیتوب ګڼلې وه او تر هرڅه وړاندې مو د دغو خبریالانو په صنفي جوړښت کې د رایوځای کولو اقدام وکړ، چې له دوی سره تماس او ګډ کار کول اسانه شي. له نېکه مرغه دغه منظم تماس دې ته لاره هواره کړه، چې سازمان د دوی او نورو نړیوالو بنسټونو ترمنځ د وصل د کړۍ په یوه فعال همکار بدل شي.

په دواړو هېوادونو کې د مېشتو خبریالانو د تفاهم بنسټونو رسماً سازمان ته لیکونه استولي او په هغو کې یې د خپل وضعیت څرنګوالی او غوښتنې په جزیاتو کې له مور سره شریکې کړې دي، چې لاندې به یې لنډیز وړاندې شي.

د پاکستان مېشتو افغان خبریالانو د لیک لنډیز

په افغانستان کې د ۲۰۲۱ کال د اګست په ۱۵مه د طالبانو له واک ته رسیدو روسته ، هغه خبریالان چې په تیرو دوو لسیزو کې د بیان د ازادۍ د اتلانو په حیث د واکمنې ډلې له ګواښونو سره مخامخ شول. واکمنو د رسنیو او رسنوالو د کار محدودولو لپاره څوارلس محدودیتونه وضع کړل:

په ملي ټلویزیون کې د ښځو د کار مخنیوی، په ټلویزیوني ډرامو کې د ښځو له ګډون او د فلمونو او سریالونو پر خپرېدو بندیز، په رسنیو کې پر راڅرګندېدونکیو ښځو د ماسک اغوستلو تحمیل، په افغانستان کې د نړیوالو ټلویزیونونو پر خپرونو بندیز، پر رسنیو د مدني اعتراضونو د پوښښ بندیز، پر ژورنالیستانو او رسنیو زور راوستل، چې طالبان د افغانستان د حکومت په توګه معرفي کړي، په رسنیو کې د موسیقۍ پرخپراوي بندیز.

په رسنیو کې د نارینه او ښځینه همکارانو جلا کول، له نارینه و ښځې یو له بله سره د مرکو ممانعت، د طالبانو له مخالفانو او منتقدینو سره د مرکو ممانعت، د سیاسي، امنیتي او ټولنیزې محتوا سره د سوداګریزو اعلانونو د خپرولو ممانعت، په رسنیو کې پر طالب چارواکیو د نیوکو بندیز. ، له "ممنوعه رسنیو" سره د کار کولو منع کول او په سیمه ییزو رسنیو کې د ښځو د غږونو پر خپرولو بندیز.

دا ټول د طالبانو له خوا په افغانستان کې د بیان ازادۍ او د رسنیو د کار په وړاندې څرګند بندیزونه دي.

د طالبانو له دې کړنو سره په افغانستان کې تر ۵۰ سلمې زیاتې رسنۍ بندې شوې، د طلوع نیوز په حواله افغانستان کې له ۳۰۰ څخه زیاتو رسنیو خپل فعالیتونه لغوه کړي او پاتې نور یې هم خپل کارکوونکي کم کړي او په خورا سختو شرایطو کې خپلو خپرونو ته دوام ورکوي.

د شته راپورونې له مخې، د طالبانو تر واک ته رسېدا راروسته، په دغه هېواد کې د رسنیو او خبریالانو له ازادۍ څخه د سرغړونې ۳٦٦ پېښې ثبت شوې دي، چې د درېیو خبریالانو د وژل کېدو، د ۲۳ خبریالانو د ټپي کېدو او ۱۷٦ رسنوالو د نیولو ، د۱۳۹ ګواښونو او د ۲۵ تنو د ربړولو، وهلو او ټکولو قضیې پېښې شوې دي

پاکستان ته سفر

په تېرو دوو کلونو کې له افغانستان څخه څه باندې ۲۰۰ خبریالان او د رسنیو کارکوونکي د سخت‌دریځو طالبانو د مخامخ یا نامخامخ ګواښونو له امله له افغانستان څخه پاکستان ته تللي دي. دغه شمېر خبریالان چې په یوه وخت کې یې خپل کور، دنده، ښار او هېواد له لاسه ورکړي، په پاکستان کې له خپلو کورنیو سره په بد حالت کې ژوند کوي.

په دغو ژورنالیستانو کې هغه رسنوال هم شامل دي، چې اروپایي یا امریکایي هیوادونو ته یې د کډوالۍ غوښتنلیکونه تر کار لاندې دي. د دغو هیوادونو په غوښتنه پاکستان ته تللي او له څه باندې دوو کلونو راهیسې لویدیزو هېوادونو ته د مهاجرت د دوسیو برخلیک ته انتظار باسي او ځینو نورو یې د ملګرو ملتونو د کډوالۍ کمیسارۍ (UNHCR) ته مراجعه کړې ده.

بې روزګاري

په افغانستان کې خبریالان د ابتدایي اقتصاد او لاس په خوله ژوند خاوندان وو، د جمهوریت له سقوط سره یې ډېر زیانونه ولیدل. هغه خبریالان چې د ځان او خپلې کورنۍ د ژغورلو لپاره په لږ مالي سپما سره پاکستان ته تللي، د خپل ژوند تر ټولو سخت کلونه په دې هېواد کې تېروي. بېکارۍ او مالي زیان په پاکستان کې د افغان خبریالانو ژوند دوزخ ګرځولی دی.

پاکستان چې پخپله په ۲۰۲۳ کال کې د مطبوعاتو د ازادۍ په درجه بندۍ کې د نړۍ د ۱۸۰ هېوادونو په کچ ۱۵۰م ځای لري، د افغان خبریالانو لپاره هېڅ ډول کاري امکانات نه لري. د دغو ژورنالیستانو په کوچنیو مالي زیرمو پورې تړلی اقتصاد په تېرو دوو کلنو کې له پښو وغورځېده او دغه شمېر رسنوال اوس د سبا و بېګاه خرڅ ته لاس په خوله ناست دي.

مالي ستونزې

د هرې کورنۍ لپاره د خوراکي توکو او جامو لګښت، د استوګنې کرایه، د درملو او درملنې لګښت او په پاکستان کې په خصوصي ښوونځیو کې د ماشومانو د زده کړې لګښت، په دې هیواد کې د انفلاسیون لوړې کچې او په ځانګړې توګه د خبریالانو د بېبرخلیک استوګنې غځېدل دوی داسې حالت ته راوستي، چې له خپلو خپلوانو په سختۍ پورونه غواړي او ژوند اوږدوي.

که دغه ژورنالیستان وغواړي، د استوګنې اسناد تمدید کړي، باید له ناقانونه لارو مسئولینو ته بډې ورکړي، دا یو بل ملاماتوونکی اقتصادي فشار دی.

ګواښونه

څه باندې ۲۰۰ افغان خبریالان په پاکستان کې د خپلو کورنیو له غړو سره د دغه هېواد د حکومت له خوا د جبري شړلو له ورځني ګواښ سره مخامخ دي. د پاکستان د قوانینو له مخې، هغه خبریالان چې د کورنۍ لیدنې یا روغتیایي ویزو په وسیله دغه هیواد ته تللي، باید ووځي او یا له ناقانونه استوګنې وځوریږي.

د پاکستان د موقت حکومت له خوا له دغه هېواده د ناقانونه بهرنیانو د وتلو لپاره ټاکل شوی ضرب الاجل د دغو خبریالانو ژوند نور هم تریخ کړ. له کورونو وتلای نه شي، پر کورونو یې د پولیسو چاپې کیږي، ویره، ډار او هره شېبه رواني فشار یې ژوند په زهرو لړلی.

رواني ستونزې

په تېرو دوو کلونو کې د کار نشتوالی، اقتصادي فشار او د ژوند د لګښتونو د پوره کولو لپاره د عاید نشتوالی، د پاکستان د حکومت او پولیسو له خوا ګواښونه چې له دغه هېواده د وتلو په موخه اړوي، ماشومان د ژبې او کلتور د توپیر له امله له زده کړو بې برخې کېږي. او په ځانګړې توګه د ښوونځیو د فیسونو د ورکولو توان نه‌شته. لویدیزو هېوادونو ته د تللو برخلیک څرګند نه دی، افغانستان ته هم بېرته ستنېدل د مرګ په قیمت تمامیږي. دا هرڅه د ویرې، اندېښنې او ژور خپګان پرلپسې څپې راولي، چې خبریالان یې له رواني کړاو سره مخامخ کړي دي.

د نړیوالو سازمانونو غفلت

هغه نړیوال سازمانونه چې له مهاجرینو او پناه غوښتونکو سره مرسته کوي په پاکستان کې د افغان خبریالانو لپاره تر ټولو کمزوری حضـور او فعالیت لري دغه بنسټونه د افغان کډوالو په تېره بیا د خبریالانو سـتونزو ته هغه ډول، چې ښایي نه رسیږي.

غوښتنې

د افغان خبریالانو د ملاتړ سـازمان د یوې داسـې موسسـې په توګه چې په ټوله نړۍ کې د بیان د ازادۍ او خبریـالانو ملاتړ کوي، د ملګرو ملتونو او اړونـدو ادارو، د خبریـالانو د ملاتړ نړیوال سـازمانونـه، د نړیوالو مرسـتندویه کمېټو او موسسـو، په نړۍ کې د بشـري حقونو ملاتړي نړیوال سـازمانونه او هیوادونه ، د بشـري حقونو نړیوالې اعلامیې ته د ژمنو هیوادونو د بهرنیو چارو او مهاجرینو وزارتونه باید دغه وضـعیت ته جدي پام وکړي.

د ملګرو ملتونو هغه څانګې، چې د کډوالۍ په برخه کې کار کوي، ښـایي د پاکسـتان واکمنو ته په دې برخه کې جدي لارښـوونه وکړي، چې د افغان خبریالانو د برخلیک تر څرګندېدا پورې له هغوی سره سـم چلند وکړي.

نړیوال سـازمانونه چې د ژورنالیسـتانو ملاتړ کوي باید خپلې هڅې بیا پیل کړي، چې په پاکسـتان کې بند پاتې خبریالان هغه هېوادونو ته وباسي، چې په دې برخه کې ژمن دي.

په ملګرو ملتونو پورې تړلې خپلواکې نړیوالې مرسـتندویه کمېټې او بنسټونه باید د دغو خبریالانو او د هغوی د کورنیو د غړو د حقوقي، اقتصادي او روغتیایي وضعیت ته جدي پام وکړي.

هغه هیوادونه چې د بشرۍ حقونو نړیوالې اعلامیې ته ژمن دي او په نړۍ کې د بشرۍ حقونو ملاتړي نړیوال سـازمانونه باید د پاکسـتان حکومت ته قناعت ورکړي، چې افغان خبریالان ونه شـړي او د دوی تر برخلیک روښانه کېدو پورې یې په ارام پرېږدي.

هغه هېوادونو چې د یادو خبریالانو د کډوالۍ دوسـیې ورسره دي، ښـایي په دې برخه کې چټک اجراات وکړي او یو شمېر افغان کورنۍ د مرګ له ګواښ څخه وژغوري.

د ایران‌مېشتو افغان خبریالانو د لیک لنډیز

مور یو شـمېر هغه ایران میشـتي افغان خبریالان یو، چې په افغانسـتان کې تر سـقوط روسـته دغه هېواد ته راغلي یو او په خورا سختو، ربړوونکیو او له رنځ و وېرې ډک ژوند تېروو. د طالبانو لاس ته د هېواد تر راپرځېدو روسته، تر هر بل چا خبریالان له سختو ګواښونو، تاوتریخوالي، زندان او نورو کړاوونو سره مخ ول، ځکه یې له هېواده له وتلو پرته بله چاره نه لرله.

مورِ پنځوس تنه خبریالان ایران ته راغلو، دلته اوس د افغان کډوالو وضعیت تر هربل وخت ډېر سخت او بد دی. مورِ ته لاتراوسه هېڅ هېواد یا بنسټ پام کړی نه دی. مورِ په تېرو دوو کلونو کې دلته د کار حق نه لرو، ویزې مو نه غځول کیږي، هره شېبه د دې ویره شته، چې ایراني پولیس مو ونیسي. او وموشړي، په مورِ کې داسې خبریالان شته، چې پولیسو حمله پرې کړې، نیولي یې دي، ځپړنه ترې شوې او ګواښل شوي دي.

ایراني حکومت زمورِ ویزه نه غځوي، کاري بنسټونو ته یې ویلي، چې افغانانو ته کار مه ورکوئ، کډوال ضد سیاست او روحیه پیاوړې ده او لا پسې ورځ تر بلې جدي کیږي.

مورِ له دوه لویو ګواښونو «ولږې او مرګ» سره مخامخ یو. که افغانستان ته وګرځو، طالبان مو وژني، دلته به مو ولږه، بېوزلي او وزګاري ووژني.

مورِ د فرانسې او نورو هېوادونو له سفارتونو غوښتي، چې بهر زمورِ کډوالۍ ته لار هواره کړي، لاتراوسه مو کوم مثبت ځواب اخیستی نه‌دی.

د خبریالانو له ملاتړو بنسټونو، نړیوالو سازمانونو او بشري حقونو ته له ژمنو هېوادونو څخه غواړو، چې په درېیو برخو کې له مورِ سره مرسته وکړي:

۱ـ له ایران څخه لویدیزو هېوادونو ته مو د تللو امکانات ژر تر ژره برابر کړي.

۲- د ایران له حکومت سره تفاهم وکړي، چې د برخلیک تر څرګندیدو پورې زمورِ ویزې وغځوي او د شړلو له ګواښ څخه مو وژغوري.

۳- له مورِ سره د اقتصادي ملاتړ په برخه کې هڅه وشي، یا د کار موندلو په برخه کې او یا هم د برخلیک تر څرګندیدو پورې دومره بشري مرسته راسره وشي، چې پرې ژوندي وپاتې.

د یادو لیکونو ترڅنګ مورِ له دواړو هېوادونو څخه د دوو فعالو خبریالانو د کډوالۍ او په کډوالۍ کې د ژوند کیسې د هغوی له خپلې خولې رانقلوو، چې هره یوه یې د ټولو خبریالانو د وضعیت او ستونزو استازولي کولای شي.

په پاکستان کې مېشتې نوموتې افغان خبریالې مېرمن مرضیې حفیظي لیکلي:

«زه مرضیه حفیظي یم، د نبوونځي زده کړې مې د کابل په رابعې بلخي نبوونځي کې پای ته ورسولې او ژورنالیزم پوهنځی مې په مشعل پوهنتون کې ولوست.

له دولسم ټولګي څخه تر فارغیدو روسته مې خپل لومړنی رسنیز کارونه له یک ټلویزیون څخه د پښتو ویاندویی په برخه کې پیل کړل او شاوخوا دیارلس کاله مې د بیان راډیو او د آریانا او طلوع نیوز په ټلویزیونونو کې په همدې برخه کې دنده ترسره کړه.

د جمهوریت پرمهال زما وروستی رسنیزه دنده له طلوع نیوز سره وه، چې له سقوط روسته مې د رسنیزو کارونو ترمنځ یوه لویه فاصله رامنځته شوه.

پر افغانستان د طالبانو له واکمنۍ روسته اته میاشتې په کابل کې وم، خو بیا ځلې مې ونشو کړای رسنیزو فعالیتونو ته دوام ورکړم.

بیکاری او خراب روحي او رواني وضعیت ددې لامل شو، چې له کابل څخه د وتلو پریکړه وکړم.

سره له دې چې پوهېدم له کابل څخه نامعلوم او بې برخلیکه وتل و، خو باید د خپل راتلونکي لپاره مې یوه پریکړه کړې وای.

له ډیرو هڅو سره سره مې ونشو کړای چې د پاکستان ویزه ترلاسه کړم او بالاخره له خپلې مور او پنځو خویندو سره مې د کندهار په لوري حرکت وکړ.

کندهار ته ناوخته ورسیدو او پریکړه مو وکړه چې سهار وختي به د کوټې خوا ته حرکت وکړو، کله چې سبا ته د سپین بولدک او چمن ترمنځ دروازې ته ورسیدو له ویزې پرته یې اجازه نه راکوله او هغه وخت چې پاکستان ته ننوتل هم ډیر سخت نه وو، خو یوازینی دلیل چې زمونږ مخه ونیول شوه له مورِ سره د محرم (نارینه) نه‌شتون و.

هغه ورځ تر مازدیګر ناوخته سپین بولدک کې و خو هیڅ کومه لاره برابره نشوه، مجبور شوو چې بیرته کندهار نبار ته وګرځو.

په دویمه ورځ مو بیا ځلې هڅه وکړه خو له هماغې تکراري ستونزې سره مخ شو، دریمه ورځ مو له فاچاقي لارې څخه د تیریدو هڅه وکړه چې بالاخره له یوې غیرقانوني لارې د اویا زره کلدارو په بدل کې د پاکستان خاورې ته ننوتلو.

څلور میاشتې مو په نامعلوم برخلیک کویټه کې تیرې کړې ځکه یو خو مو د ویزې ستونزه درلوده، دویم دا چې د تګ لپاره مو نور مصارف نشوای پوره کولی.

له څلورو میاشتو سختیو او ستونزو روسته وتوانیدم چې له کورنۍ سره ځان اسلام اباد ته ورسوم.

اسلام اباد کې هم ژوند خورا سخت و، له یوې خوا وزګاره او له بلې خوا مې هیڅ کوم مالي ملاتړی نه درلوده، اړیکې مې له هرې اداري او اشخاصو سره پرې شوې وې، تر هغه چې د خپل له یوه پخوانۍ همکار سره مخامخ شوم او زه یې د خبریالانو له بیلابیلو ملاتړو ادارو سره معرفي کړم چې تر یوه حده مې ملاتړ وشو او هغه سختې شپې او ورځې مې کرار کرار خلاصیدلې.

په ۲۰۲۲ کال د خبریالانو د ملاتړ سازمان له چارواکو سره معرفي شوم او دوی سره مې په بیلابیلو برخو کې خپل فعالیتونه پیل کړل.

له دې فعالیتونو سره بیرته ژوندۍ شوم او ژوند ته راوګرځیدم، له یوې خوا مصروفه شوې وم، له بلې خوا مې بیرته اړیکې پراخې شوې او تر ټولو مهمه خبره دا چې د کاري فرصتونو زمینې راته برابرې شوې.

په پاکستان کې اقتصادي وضعیت خراب دی، نو دلته د افغانانو ژوندسخت تیریږي. هره ورځ لسګونو کسانو سره مخامخ کیږو، چې د ژوند تجربه یې ترمونږ ډیره سخته وي خو ټول هڅه کوو د راتلونکي او د کورنۍ لپاره سختي ومنو.

شاوخوا شپږ میاشتې کیږي چې بیرته مې خپل رسنیز کارونه پیل کړي او زه د اوس لپاره دې ته خوشاله یم چې له هغه سخت وضعیت څخه ووتلم او بل مورد دا چې له خپلو هم مسلکانو سره په هره برخه کې همکاري او ملاتړ کولی شم.

دلته د لسګونو خبریالانو حق خوړل شوی که هغه د کیسونه په برخه کې دي، یا د مالي ملاتړ په برخه کې، ځکه ډیرې اداري د خبریالانو په نامه پروژې او پیسې ترلاسه کوي خو یوازې هغو کسانو ته رسیږي چې واسطه او روابط ولري.

یوه خبریال ته د مرستندویه او ملاتړو ادارو له خواډېره مرسته ورکول کیږي او ځینې نور بیا د یوه وخت ډوډۍ په برابرولو کې پاتې راځي.

ځینې کسان چې دوه ورځې یې رسنیو سره کار کړی وي په دوه تر دریو میاشتو خپل هدف ته رسیدلی شي ځینې نور چې شل تر پنځه ویشتو کلونو یې خپل عمر رسنیو کې تیر کړی وي، له څه باندې دوو کلونو راهیسې پاکستان کې بې برخلیکه ګرځي.

اوس چې د خبریالانو د ملاتړې اداري له خوا د یوه منظم چترلاندې لسګونه خبریالان سره راټول شوي یو، هڅه کوو چې د بې عدالتیو مخه ونیسو، خپل راتلونکی او برخلیک معلوم کړو او د هغو کسانو او پروژو مخه ونیسو چې د خبریالانو له نوم څخه ناوړه استفاده کوي.»

په ایران کې مېشت یو بل خبریال ښاغلي حسین احمدي د ځان او خپلې کورنۍ غمجنه کیسه داسې کښلې:

«زه حسین احمدي یم. دري کاله مې په افغاني رسنیو کې د ویاند او خبریال په توګه دنده ترسره کړې. د کابل له سقوط روسته ، په رسنیو باندې د بندیزونو زیاتیدل او د طالبانو مستقیم او غیر مستقیم ګواښ، دې ته اړ کړم، چې هیواد پریږدم او ایران ته مهاجر شم. ایران ته له راتلو روسته مې ډېرې هڅې وکړې چې په یوه خوندي او دایمي هېواد کې مهاجر شم، خو له بده مرغه تر اوسه بریالی نه شوم. زه له خپلې مېرمنې

سره شپاړس میاشتې کیږي، چې په ایران کې یم او یو شپږ میاشتنی زوی لرم. په دې موده کې زه نه یوازې له اقتصادي او د استوګنې له ستونزو سره مخ یم، بلکې سختو ذهنې- روانې رېړو او خپګان زه او زما مېرمن ځورولي یو. که څه هم په نورو هېوادونو کې افغان خبریالانو ته د اداره له خوا څه پاملرنه کېږي، خو په ایران کې خبریالانو ته هېڅ پاملرنه نه‌شته.

دا مسله زما او نورو ژورنالیستانو لپاره د اندیښنې وړ او ویجاړوونکې ده. حتی د اروپایي هېوادونو له خوا د قضیو په څېړلو کې هم د پاکستان او ایران له خبریالانو سره دوه مخی چلند کېږي او په ایران کې د افغان خبریالانو دوسیې د دوی لومړیتوب نه دي. په ایران کې د اوسیدو او د ویزې د تمدید مسله زموږ له نورو لویو ستونزو څخه ده او هیڅ استثنا نه لري او هغه کسان چې په ایران کې دي کولی شي خپلې ۴۵ ورځنی او دري میاشتنی ویزې یوازې په خورا خوشبینانه حالت کې د نهو میاشتو لپاره تمدید کړي، خو ډېرځله دغه تمدید یوازې د دریو میاشتو لپاره وي. له هغې روسته ، دوی د غیرقانوني استوګنې د هرې ورځې لپاره له ۴ امریکایي ډالرو څخه زیات جریمه کیږي، چې دا د خبریالانو اوږدمهاله پاتې کیدو او د دوی دوسیو ته د انتظار کولو په پام کې نیولو سره لوی قیمت دی.

د دې ننګونو ترڅنګ، د شته محدودیتونو له امله، موږ ژورنالیستان حتی کولای نه شو، چې د هغو بنسټونو او هیوادونو پام ځانته راواړوو چې د ژورنالیستانو ملاتړ کوي. حتی کله چې حکومت د خبریالانو د شتون په اړه خبر شي، تحقیق او تعقیب کیږي.

پورته زه له معتبرو ملاتړو هیوادونو او بنسټونو څخه غواړم چې په ایران کې د خبریالانو لپاره د بشردوستانه مرستو په برخه کې خپله پاملرنه زیاته کړي. او همدارنګه موږ د ژورنالیستانو څخه د ملاتړ کونکو سازمانونو څخه هم غوښتنه کوو چې د اروپایی هیوادونو په ځانګړې توګه فرانسه چې د ډیرو ژورنالیستانو قضیې څېړي، باید ایران مېشتو رسنوالو ته ډېره پاملرنه وکړي.»

پایله او وړاندیزونه

ترسقوط روسته په تبعید کې د افغان خبریالانو، رسنیو او د رسنیو ټولو اړوند کارکوونکیو په برخه کې یوه نړیوال بحث Discourse ته اړتیا شته، چې په هغه کې ښایي د هغو خبریالانو وضعیت په ځانګړې توګه تر پام لاندې راشي، چې په سیمه کې په تېره بیا دوو ګاونډیو پاکستان و ایران کې پاتې دي.

سازمان باور لري، چې په ټوله نړۍ کې افغان خبریالان خپلې خپلې ستونزې لري. دا هم مهمه ده، چې موږ په افغانستان کې دننه پاتې خبریالانو او د رسنیو وضعیت ته تر هربل ځایه ډېر پام وساتو.

مګر په ایران و پاکستان کې د خبریالانو ناخرګند برخلیک یو بشري ناورین دی.

وړاندیز کیږي، چې له حقوقي پلوه دوی ته د رسیدګي او له اقتصادي پلوه یې ملاتړ لومړیتوب وګڼل شي.

له افغان خبریالانو د ملاتړ ســـازمان، چې دغه چارې يې د فعاليتونو په لومړيتوب کې راځي، حاضر دی په دې برخه کې بېلابېلې هماهنګی، بحثونه او عملي هڅې مديريت کړي يا يې فعاله برخه اوسي.

په دې برخه کې د معلوماتو خپرول او عامه پوهاوی، له اړوند مسئولو نړيوالو بنسټونو سره منظم تماسونه، او د مرستې غوښتنې شفاف فعاليتونه له ياد کړکېچ څخه د وتلو په برخه کې مرسته کړلای شي.

د ملګرو ملتونو د سازمان اړوند بنسټونه په تېره بيا UNHCR، د خبریالانو له حقونو د دفاع نړيوال سازمانونه، د بشري حقونو نړيوال بنسټونه، مشهور خبریالان او رسنوال، رسنۍ او د مدني ټولنې لويه کورنۍ ټول کولای شي خپل مسئوليت او وندې ترسره کړي.

د افغانستان له خبریالانو د ملاتړ سازمان